خدمتگار ملی ورځپانه ۲۰۱۳/۰۷/۱۵

# له کرزي سره ګډ کار ستونزمن دی

واشنګټن پوسټ ورځپاڼي په خپل تازه مطلب کې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د پاتې کېدو په اړه د بارك اوباما وروستي درېځ ته په کتو لیکلي چي په افغانستان کې ستونزه د ځواکونو د کمولو نه، بلکي اصلي ستونزه دا ده چي نور له افغان ولسمشر سره ګډ کار کول ستونزمن دي.

که څه هم افغان ځواکونو ډېر پرمختګ کړی؛ خو بیا هم په هغه کچه نه دي؛ څو د امریکایي ځواکونو له مرستي پرته په افغانستان کې د طالبانو د دوام د مخنیوي ضمانت وکړي.

د اوباما اداره له افغانستانه د خپلو ځواکونو په وتو کې بېړه کوي؛ ان دا چي په ۲۰۱۴ کال کې به د خپلو ځواکونو شمېره صفر ته را ټیټه کړي.

دا یوه د پوهېدو وړ؛ خو غېرعاقلانه نظر دی. که څه هم دا زموږ د روان ماموریت په اړه یوه تېروتنه ده او هغه هم په داسي یوه ځای کې چي اوباما په کې د خپلو ځواکونو پاتې کېدل د خپل هېواد امنیت لپاره ګټور بولي.

د ځواکونو د شمېرې د راښکته کولو علت یوازې دا نه دی چي په افغانستان کې زموږ ماموریت اوږد شوی؛ بلکي له افغان ولسمشر کرزي څخه داسي کس جوړ شوی، چي کار کول ورسره ستونزمن شوي.

په تېر کې په ټاکنو او نورو برخو کې له فساد پرته اوس کرزي امریکا له طالبانو سره په خبرو اترو کې هم په فساد تورنوي.

همدارنګه وروسته له دېنه چي طالبانو به قطر کې د اسلامي امارت په نامه دفتر پرانیست، کرزي له طالبانو سره د امریکا په مذاکراتو هم نیوکې وکړې؛ ځکه چي د کرزي په وینا امریکا له طالبانو سره د خبرو اترو د پایلي د ترلاسه کېدو مخنیوی کوي او له دې لارې غواړي په پټه کې له طالبانو سره اړیکې پرې او د خپلو ځواکونو وتلو ته لار هواره کړي.

د واشنګټن پر وړاندې دا ټولي کړنې د واشنګټن لپاره د تأسف وړ؛ خو د هغوی د سرتېرو د ویشو لپاره د پیل نه دی.

مهمه خبره دا ده چي کرزی له افغانانو څخه استازي توب کوي او د اځکه چي کرزي دوه ځله له افغانانو څخه رایه ترلاسه کړې.

ټول افغانان او د ساسي چارو کارپوهان په افغانستان کې د شوروي اتحاد له ماتې وروسته له افغانستان سره د امریکا د اړیکو او مرستي د پرې کېدو پایلو ته اشاره کوي او وایي چي افغان ځواکونه دومره هم نه دي پرمخ تللي؛ څو په یوازې توګه بریالي عملیات وکړي او زیاتوي چي دوی وسلو او تجهیزاتو ته اړتیا لري.

ځکه اوسمهال دوی د طالبانو د قدرت د دوام د مخنیوي ژمنه نه شي کولی.
که امریکا خپله دا خبره چي د خپلو ځواکونو شمېر صفر ته را ټیټول عملي کړي، دا به د طالبانو لپاره چي پاکستان یې خپل حمایوي کسان بولي، یو ښه فرصت وي؛ څو په یاد هېواد کې پټنځایونه جوړ او خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ